WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

www.libtool.com.cn

رابندرناتهـ ټاګور

ګیتانجلي

پښتو منظومه ژباړه

محمدصدیق پسرلی

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې
د جوړيدو د لسمې کاليزې په وياړ
۱۳۶۴ - ۱۳۷۴ هـ ش

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU
4799

ګيتانجلي

د

رابندرناتهـ ټاګور

پښتو منظومه ژباړه

د

محمد صديق پسرلي

۱۳۷۳

www.libtool.com.cn

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : گیتانجلي

ويونکی : رابندر ناتهـ ټاګور

ژباړن : محمد صديق پسرلی

خپرونکی : د آزاد افغانستان د ليکوالو اتحاديه د وفا جريده

د وفا جريدې د خپرونو

پرله‌پسې نومره : ۳

د چاپ کال : ۱۳۷۳ حوت / ۱۹۹۵ مارچ

د چاپ ځای : تاپ پرنټرز - پېښور

کمپوزر : سيد حسين پاچا

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه

ډېر کلونه پخوا هغه وخت چې نوی د لوستلو او لیکلو شوق راته پیدا شوی و او د زړهٔ په زور به مې په کابل مجله کې یو نیم شعر یا ادبي ټوټه لوستلای شوای زهٔ د ټاګور له نوم سره اشنا شوی وم او د دهٔ د ګیتانجلي د ځینو شعرونو ترجمو به مې په ذهن او زړهٔ کې د دهٔ لپاره خاص ځای غوښت ، که څه هم تراوسه د ټاګور د فلسفي شعر په کیفیت سبه نه پوهیږم هغه وخت مې ترنن هم سویه ټیټه وه خو د ټاګور شعر لکه پخه میوه داسې ده چې ماشومان یې د خوند لپاره خوري پرته له دې چې په طبي ګټو یې پوه شي خو پوهان یې هم په ګټه پوهیږي هم په خوند .

د ټاګور په شعر کې یو ور خاص خوند پروت دی چې ښودل یې خوله، ژبه او علم غواړي . زما مینه د هند د دې لوی مفکر او ستر شاعر له کلام سره صرف د هغه خوند له امله وه چې لنډ ډیر زما ماشوم طبیعت ورڅخه اخیستلای شو خو په ګټه یې نه پوهیدم .
www.libtool.com.cn

څو کاله وروسته یو وخت د محترم بینوا صاحب په قلم د ګیتانجلی د څو پارچو ترجمه لاس ته راغله (هغه وخت چې لا مکمله ترجمه نه وه چاپ شوې) ما له هغو څخه یو دوه ټوټې نظم کړې چې په کال ۱۳۳۵ کې د پښتون ږغ په مجله کې خپرې شوې .

بیا ډیرې وختې راغلې لاړې چې نه یې کومه مکمله نسخه په لاس راغله نه یې له ما سره د نظمولو مفکوره وه . څو چې په کال ۱۳۵٤ د کب د میاشتې په وروستۍ لسیزه کې د ښاغلی روان فرهادی له خوا په دري نظم او نثر د ګیتانجلی ترجمه چا راوړه د هغه اثر لیدو او لوستلو بیا وپارولم له ښه مرغه د بینوا صاحب ترجمه هم په لاس راغلې وه ، د دواړو په پرتله کولو بوخت شوم او د ټاګور مطلب به مې په هر شعر کې له دواړو څخه اخیست . د نظم لپاره مې د بینوا صاحب ترجمه چې مکمله په نظر راغله غوره کړه ، البته په ځینو مطالبو د روان فرهادي کتاب سم پوهولم هغه . و چې تر پنځه پنځوسمې ټوټې مې له یو دوو ټوټو پرته له یوه سره نظم کړې پاته له څه لنډې وقفې وروسته چاپ شوې او بیا نظم شوې دي ، په چاپ کولو کې صرف دا معیار و چې باید هغه شعرونه نظم شي چې اقلاً یو څه خو زمونږ له ذهن او ادبیاتو سره توافق ولري نورې منظومې رانه پاته شوې . نورې ټوټې یې چې ډیر زیات د هندي فلسفو رنګ منلی و. زمونږ لپاره یې شعري کیفیت نه درلود ځکه چې هرقوم او هرملت بیل کلچر بیل معتقدات او بیل ادب لري ، دغه څه چې ترجمه شوي دي هم البته زمونږ له ادبیاتو سره ډیر

مغایرت لري خو بیا هم مونږ ته پکښې یوه اندازه ادبي کیف حاصلیږي نه هغومره چې یوهٔ بنګالي هندو ته حاصلیدای شي . خو د پاته ترانو نظمول راته بیخي اضافي کار ښکاره شو ، یا به یې زه په خوند نه پوهیدم یا به ممکن زمونږ لپاره نامفهوم غوندې اشعار وو .

www.libtool.com.cn

په هرحال په ډیرو لیوني خوشالیږي ، که دا ترجمې د خلکو خوښې شوې په ګوشته کې نور ځوانان هم شته ، نور ځوانان به یې تکمیل کړي .

په درناوی

پسرلی

۱

www.libtool.com.cn

بیکران او لا محدود چې دي پیدا کړم
دغه شان به ای باداره ستا رضا وه !
په وارو ، وارو زما د بدن لوښی
ړکوې او تشوې د ژوند له تاوه
*** *** ***

چې په غرونو ، په رغونو باندې ګرځې
دا وړه غوندې شپیلۍ هم درسره وي
هره سا پکې یوه بله نغمه پوه کړي
شامدام دې نوی ساز – نوې نغمه وي
*** *** ***

جاویدان لاس چې راتیر زما په زړه کړې
زما زړه یې له مښوده ګلستان شي
د حدودو پنجرې ماتې کړې زغیږي
په ها ژبه چې عاجز ورته بیان شي
*** *** ***

زمانو ولیدل ستا ډېر نعمتونه
چې زما وړو لاسونو کې رالویږي
آیا نور هم خه لا دم ګنې باداره ؟!
یا د نورې سمسورتیا ځای درښکاریږي ؟

www.libtool.com.cn

۲

اجازه چې د سندرې ماته راکړې
زما زړهٔ شي له ډېر وياړه ډېر ډېرې
تاته وګورم ليمې مې شي راډکې
روڼې اوښکې مې رپ رپ په باړخو رغړې
* * *   * * *   * * *

هغه څه چې د ورتې وړ وو په ژوندون کې
د خوږې سندرې رنګ واخلي عيان شي
زما ځانځنه د يوهٔ ښاد مـرغه په شان کړې
کـوم چـې پاس پر سمندر وزر افشان شي
* * *   * * *   * * *

ته زمـا په دې سندرو خوشحاليږې
چې سندرې درته وايم بنه پوهيږم
زه يـوازې په عنوان د سندر غاړې
ستا حضور ته نژدې کيږم او قبليږم
www.libtool.com.cn
*** *** ***

د سندرو د اوږدو وزرونو خـولهٔ ده
چې ستا سنکلې ، پستې پښې شي سنکلولاى
هغه پښې چې تش ديدن يې ناممکن دى
تصور يې د ليدو نشم کـولاى
*** *** ***

د سندرې خوشحالي مې کړي سرشاره
ځـان مـې هير شي درته ووايمه ياره !
کنه زه څوك يم او ته څوك ؟! زه دې مينځه ،
تهٔ مالك زما د هر څه يې باداره !

۳

www.libtool.com.cn

اې باداره ! اې باداره ! اې باداره !
چې ته ځنګه بدل بولې نه پوهیږم ؟
زه یې تل تل په خاموش حیرت کې اورم
پرې خوښیږم ، پرې مستیږم ، پرې نازیږم
*** *** ***

د سندرو ژوندی روح دې ده چې تل تل
پردې مځکو ، آسمانونو باندې ګرځي
چې د ساز دې مقدسې څپې راشي
ډېرین حجاب د غرونو ورې اوغورځي
*** *** ***

زړهٔ مې ستا سره سندره بلل غواړي
خو له تت آوازه زغ نه اوچتیږي
زه به څه.روایم عجز کړوي ما
له ساده زغه سندرې نه جوړیږي
*** *** ***

آه ، زما زړهٔ دې زما د زړهٔ باداره !
په څه لومو ، په جالونو کې نیولی ؟
تا د خپلې موسیقي په بیشماره –
خوندورو طنابونو یم تړلی !

٤

www.libtool.com.cn

اې زما د اروا ځانه ! ښه پوهېږم
دا چې ساتم خپل بدن پاك او سپېڅلی
چې ستا لاس زما پر جند باندې تېرېږي
خوږ مښود يې زما ترڅان راګرزېدلی
* * *   * * *   * * *

زه به زيار باسم چې ټولې ناروا وي
له خپل زړهٔ او له خپل خيال څخه جلا کړم
ښه پوهېږم چې ته هغه حقيقت يې
چې د عقل په انوارو يې رڼا کړم
* * *   * * *   * * *

زما زيار او زما هڅه به تل دا وي
چې بدي مې واړه وباسم له خپل زړه،
د تازه او غوړېدلي ګل په څېر مې –
مينه وساتم او پالم باندې تل زړه،
* * *   * * *   * * *

ته زما د زړهٔ معبد کې يې پوهېږم
په هر کار کې ماته مرسته راکوې ته !
زما هڅه به باداره ! ټوله دا وي :–
چې په هر څه کې جلوه راښکاروې ته

٥

www.libtool.com.cn

صرف زه دومره لورينه درنه غواړم
چې يو ځل دې اجازت وموم در ته
بس د ستړګې رپ قدر در سره کښنيم
نور کارونه به مې بيا رسوم سر ته
*** *** ***

ناکرار مې د زړګي ذره ذره شی
نه ليدل دې ګوره څه اور په ما بل کړي
زما کار د مشقت د بيکران سين
په بې پايه کړاوونو را بدل کړي
*** *** ***

د ګرمي توده سا بيا احساسومه
د کړکۍ له شا نه مخ راښيئ ماته
او د شاتو مچۍ بيا په تاندو ګلو
سرينديې د محبت زغوي چا ته
*** *** ***

د دې وخت دی چې اوس زه هم ستا ومخ ته
مخامخ کښنيم په پټه خوله دلبره !
په کاملې خاموشي درته شروع کړم
د ژوندون د نذرانې غوره سندره

www.libtool.com.cn

٦

دا کوچنوټی گل در پرې کړه
کوم چې تاته غوړېدلی
مه ځنډېږه چې زموول نه شي
بیا به خاورو وي لړلی
* * *   * * *   * * *

دا کوچنوټی گل درواخله
انتظار ولاړ دی تا ته !
په امیل کې به دې گوندې
یو څه ځای وي ورته پاته
* * *   * * *   * * *

کنه ته يې د پاسته لاس
د مښود په خوږو ښاد کړه
د حسرت له پنجرو يې
په خپل لاس باندې آزاد کړه
www.libtool.com.cn

*** *** ***

هسې نه چې ورځ بيګاه شي
دې نه وراندې چې خبرېږم
باندې تير د نذر وخت وي
زه بيرېږم - زه بيرېږم

*** *** ***

زه منم ، په رنګ کچه دی
بوی يې هم دومره تيز نه دی
خو در پرې يې کړه له څانګې
چې د کار وخت يې دغه دی

www.libtool.com.cn

۷

زما ساز او زما نغمو یې
د ښایست له آسمانو یې
اوچت حُسن ساده کړی
دی په مځکه پیاده کړی

د ده حُسن بې جامو ، او –
پسول د وصل اخلال کړ وي
بې سینګاره ښایسته دی
له ګینو نه وارسته دی

دا پسولونه او ګینې دي
زما و ستا پتې خبرې
چې په مینځ کې مو دریږي
یې په شور کې محو کیږي

ستا په وړاندې مې له شرمه
ای باچا د شاعرانو !
غرور مات د شاعرۍ شي
ژبه تا ته ترټرۍ شي

زه ستا پښو ته یم ناسته
چې له ژوند نه مې کړم جوړه
اجازه راکړه باداره !
یوه شپېلۍ د تا د پاره

یوه ساده – سیده شپېلۍ چې
ستا د پاره د یوې سنګلې –
بس د تا په یاد زغیږي
نغمې ساه پکې چلیږي

www.libtool.com.cn

۸

شاهانه جامې چې واغوندي ماشوم ته

کړي امیل د جواهرو ور په غاړه

ښایسته ، ښکلې جامې کړي ورنه هیري

طفلانه لوبې د دهٔ له زړهٔ نه واړه

***   ***   ***

چې هار خپل اخلي د ناز ښکلې جامې یې

په نازکو پښو کې اوړي لکه لومې

د امیل داني یې واړه څانته څانته

د طفلۍ هوس ته وګرزي پیچومې

***   ***   ***

چې وریښمین لباس یې خاورې سپیره نه کړي
گوښې گرزي د طفلانو له ټولي نه
هوسونه یې ور وژني شاهانه پوښ
آرایش یې لرې ساتي له طفلي نه

www.libtool.com.cn

***   ***   ***

نو ، اې مورې ، ای د ښکلي ماشوم مورې
خپل ماشوم په ښکلي پوښ کې ښکیلوه مه
بې گناه بچې دې ای زړهٔ سواندې مورې
له طفلي او له طفلانو بیلوه مه

***   ***   ***

دغه خاوره چې جامې ورځخه ساتې
دغه خاوره دې روغتیا بخښني ماشوم ته
پریږده ورغړي پر خاوره ، لوبې وکړي
دغه لوبې دې ښکلا بخښني ماشوم ته

www.libtool.com.cn

۹

ای ناپوهه ، ای ناپوهه !   ای په خپلو اوږو سپوره !
اوس له خپلې دروازې هم   پکر غواړې تمه خوره

خپلې چارې او دندې دي   وسپاره و هغه چا ته
چې ستړیا او تأسف یې   لیمه نه اړوي شا ته

چې د مینې په ساه بله –   ډیوه وژني تمنا ده
آرزوګانې دې کړه لرې   چې آرزو د عشق بلا ده

د هغو ناولو لاسو   له خیراته لاس په سر کړه
ها هدیه موږه په سترګو   چې سپېڅلې مینې درکړه

www.libtool.com.cn

۱۰

ستا د پسنو لپاره فرش خو
مګر تا هلته پل کېښنود

غوړېدلی دلته لنډ وو
چې بېوزلي سره پنډ وو

زړهٔ مې غواړي چې تندی مې
خو زما سر ټيټېدنه

ستا په پسنو پورې موښلی
په دې نه شي پوهېدلی

چې ستا ګام د اسکېرليو
په رټلو ، په دروېلو

او بې وزلو خلکو مل دې
دې خاونده نظر تل دی

غرور نه شي هغه ځای ته
نه مغرور د دې مطلب په -

لاره هېڅ وخت موندولای
نازکي شي پوهېدلای

هغه ځای ته چې د خوارو
له بېوزلو سره ګرځي

په جامو او په کالو کې
په مېرو او په باڼدو کې

زما زړهٔ نه لري لاره
د خورا ډېرو بېوزلو

هغه ځای ته چې ته تل يې
بې پناهو سره مل يې

www.libtool.com.cn

۱۱

د معبد په تیارو کې
ته د چا پرستش غواړې ؟

چې ورهم کړې درپسې پورې ؟
پام دې وې د چا په لورې ؟!

دا تسبې او نغمې څه دي ؟
په دې توره تیاره کې

دغه پریږده ، څه پرې وياړې ؟!
له تیارو څخه څه غواړې ؟

سترګې وغړوه ، ګوره
که دې خدای غواړې نو وایه

په تیارو کې خو څه نشته
په کوم ځای کې هغه نشته ؟

هلته هم دی ، هغه ځای کې
هم په غرو کې د شپنیانو

چې بزګر په یوې بوخت وي
لهٔ خواله سره جوخت وي

هلته هم د هغوی مل دی
د پاسته لاس په تناکو

چې لو لارې جوړوي څوک
پخې تیږې وړوي څوک

له هغو سره دایم وي
په سیلۍ - په ځول - په هروخت

په باران - په باد اوریه کې
آن په تکنده غرمه کې

د هغه کالو ته گوره
له زيارکښو سره اوسي
تل له خاورو نه سپيره وي
له غريب سره ډيره وي

له عبا او قبا تير شه
د هغه غونډې په مځکه
پريږده دا د ريا کته
شه دې خاورو ته راښکته

www.libtool.com.cn

آزادي غواړې نو واوره
له دې تورې تيارې ووزه
آزادي رستگاري ده
د غمجنو غمخواري ده

زمونږ بادار په خپله خوښه
د مخلوق د قطرت ستونزې
واخيستې په خپله غاړه
د خلقت اړيکې واړه

تل له مونږ سره لگيا وي
له هر څه يې ښکاري مينه
تل يې پام وي زمونږ په لوري
تل په مينه راته گوري

دې بزرگيو ته دې شا کړه
دا نذري عود بتۍ مړې کړه
پل بهر له حجرې کيږده
د خلوت گټې دې پريږده

څه پروا که دې کالي وي
اسکيرلي او بيوزلي
تاپې تاپې اوشليدلي ؟
خو لا ډير دې پرې منلي

پاڅه پاڅه زحمت خوښ کړه
سر ، تندی دې کړه خولې او –
له زياره سره خپل شه
له باداره سره مل شه

www.libtool.com.cn

۱۲

د عمرونو مسافر یم
د آسمان د لوړو وړانګو

په اوږده سفر وتلی
په بګۍ کې یم راغلی

ډېرې نخښې مې پرې ایښې
آسمانونه مې کچ کړي

د دې ستورو پر مخونو
په دې سترو سفرونو

هغه ډېره لیرې لار ده
موندول یې آسان نه دي

چې نژدې تا ته راغلي
هم سیده ده ، هم پیچلې

د خوږې نغمې په خیر ده
په هنر کې رهنما شي

چې له دروې شي راپورته
د سنکاره ساده ګې لور ته

نابلد ټکوي هرځای
لالهاند وي څو چې مومي

ډیر د خپلو ، پردو وروړنه
د مطلب د حرم خونه

زما لیمې هم سنکته پورته — لالهاندې گرځېدلې
په هرڅه او په هرځای کې — یې بس ته پسې غوښتلې

دې نه مخکې ، دې نه وړاندې — چې لیمې وترم دواړه
او نارې کړم چې دا ته یې — ای زما په زړه ولاړه

دا پوښتنه : چې دی کوم دی ؟ — زما په سترگو کې اوبه شي
هر یو څاڅکی د دې اوښکو — طوفاني غوندې څپه شي

یو مست سیل ورڅخه جوړ شي — شك شبهې واړه لاهو کړي
د یقین په ویر جهان کې — د « دا زه یم » نفس پو کړی

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

۱۳

ها سندره چې ويلو ته يې راغلم
ده تراوسه نابللي رانه پاته
ورځ مې تيره شوه او ساز مې سر ونه نيو
له بې سوره سازه څه واوروم چاته ؟

* * *   * * *   * * *

لا تراوسه مې سم وخت نه دى موندلى
ناموزونه دي پراته راته لفظونه
تش يو درد مې د آرزو په زړهٔ کې پروت دى
نور نه ساز شو ، نه سرود شو ، نه شعرونه

* * *   * * *   * * *

که څه هم غوټۍ لا نه ده غوړېدلې
د هوا له زړهٔ ساړهٔ آهونه خيژي
نه رغيږي ، نه ليد کيږي خو څرپی يی
www.libtool.com.cn
ورو ورو اورم چې زمونږ خوا کې تيرېږي
***   ***   ***

يوه اوږده ورځ مې بيګاه کړه هلو ځلو
چې مې دهٔ ته خپله خونه فرشو له
چې مې دی نشو دننه رابللای
ما تراوسه ډيوه نه ولګوله
***   ***   ***

د ليدو په تمه تمه به يې پايم
دا آرزو به مې ترمرګه راسره وي
که څه هم تراوسه نه دی ما ليدلی
د دهٔ خيال به مې د زړهٔ د کور ډيوه وي

۱٤

www.libtool.com.cn

وړ د رحم او عطوفت دي
خو د لوی رحم خاونده
زما هيلې ، فريادونه
د تا بل شان دي دادونه

که زه ډير څه درنه غواړم
زما ژوند دې ښايسته کړ
ته مې لبز منې غوښتنه
په دې لويه لورېينه

هره ورځ په ما بې غوښتنو
چې د غوښتو له هجومه
کمې - لويې عطيې اورې
مې بې غوښتو ضمير ژغورې

دا عطيې دي څه دي ؟ ربه !
دغه زه ، او زما جند ، او -
دا آسمان ، محکه ، دنيا مې
دغه ژوند ، او دغه سا مې

کله داسې شې چې سوځم
کله پاڅيږم له خوبه
ستا له ډيره انتظاره
ستا په لټه ناکراره

خو ته ، اې زما باداره !
بيرحمې نه ده نو څه ده
کله هم نه ليدل کيږي
چې هروخت رانه پټيږي

ما له ورانو هيلو ژغورې
چې د تا د مينې وړ شم
ته په خپلو انکارونو
په سپيڅلو ارمانونو

www.libtool.com.cn

١٥

د خپل لوی دربار په مینځ کې
چې د تا سندرې بولم
دې زه هم یم کښېنولې
زه دې یمه رابللې

بل کوم کار پاته دی ماته
بې له دې چې وځپم ژوند
په دنیا کې چې یې وکړم ؟
او تري جوړه یوه نغمه کړم

نیمه شپه چې مو دربولې
چې ادا کړو په معبد کې
پرستش ته کړیالونه
د کامل سکوت لمونځونه

نو اې زما باداره ! ماته
په حضور کې دې ولاړه
حکم را ! چې ودې ستا یم
او سندرې درته وایم

هر سحر چې په فضا کې
ما هم بوله چې تا ستا یم
ستا زرین ارغنون سر شي
چې د فخر جام مې پُر شي

www.libtool.com.cn

١٦

د دنیا په دې لوی جشن –
په دې زیري یې خوشحاله
کې ، دا زه هم میلمنه شوم
په دې لطف سنه درنه شوم

هم مې ولیدل په سترګو
کافي برخه مې حاصل کړه
هم مې واوریدل غوږونو
د سیلونو ، د خوندونو

په دې جشن کې زما هم
درست مې وزغول داسې
د سازونو وظیفه وه
چې له وسه مې پوره وه

آیا اوس هم لا هغه وخت
چې دننه مې دربولې
درته نه ښکاري باداره ؟!
د وروستي سلام د پاره

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU 4799

۱۷

زه د مینې لاس ته ګورم چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
خپل تقدیر او دا خپل هرڅه خپل جهان ورته تسلیم کړم

دا سبب دی چې لا ګورم په ما دومره شو ناوخته
دا موجب دی چې کړېږم انتظار راولي سخته

غوارې ما هم کړي پابنده د دودونو ، رواجونو
خو زه تښتم له دې خلکو او د دوی له دې دامونو

زه د مینې لاس ته ګورم چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
دا خپل ژوند او د ځان هرڅه خپل جهان ورته تسلیم کړم

دوی په ما لګوي دا تور   چې زه ډېره بې پروا یم
دوی رښتیا وايي ، رښتیا ده   بې پروا سندرې وایم

ورځ تیریږي او کمیږي   ګڼه ګونه له بازاره
یوهٔ مشغول غونډي بشر هم   واخیست لاس له کارو باره

کوم وګړي چې وو هسې   په چټي پلمه راغلي
بیا کورونو ته ستانه شول   قهریدلي - ځوریدلي

زه د مینې لاس ته ګورم   چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
دا خپل ژوند او د ځان هرڅه   خپل جهان ورته تسلیم کړم

www.lbtool.com.cn

۱۸

www.libtool.com.cn

توري وريځې سره اوري غرونه
او تيارې يې راخورې کړې رڼا لاړه
خو يوازې بهر ستا له ورهٔ مينه !
دغه يوه زه منتظره يم ولاړه
*** *** ***

ورځ چې ټول په کار لګيا وي زه هم ورشم
په غرمه کې هم يوازې نه يم پاته
خو د دې تورې تيارې په تنهايي کې
د اميد سترګې بې تا واړوم چا ته ؟!
*** *** ***

که ته ځان راښکاره نه کړې او ما پرېږدې
په دا هسې تنهايي او توره شپه کې
خدايزده ښنګه به شي تيرې نه پوهيږم
دا اوږدې ګړۍ په ما په ياد اوريه کې ؟
*** *** ***

زه آسمان او شاوخوا ته ځير ځير ګورم
چې تيارې يې دم په دم اضافه کيږي
زړهٔ مې باد په مخه کړې دی روان دی
له سيليو سره ژاړي او چغيږي

۱۹

www.libtool.com.cn

که ته ما سره خبرو ته جوړ نه شوې
زه به ستا له خاموشیو زړهٔ ودان کړم
لکه توره شپه د ستورو له ليمو نه
انتظار به دې په صبر چراغان کړم
* * *   * * *   * * *

زه به ستا چوپوالی وزغمم په صبر
پته خوله به دې په ياد یمه ولاړه
ستا سکوت به مې د خپل سکوت امسا کړم
انتظار به دې لرم په کږه غاړه
* * *   * * *   * * *

ورځ هرومرو راتلونکې ده راځي به
د تیارې لمن به خامخا تولیږي
ستا آواز به آسمانو نه یوه ورځ چوي
تري د سرو زرو چینې به را خوټیږي
* * *   * * *   * * *

هغه وخت به ستا خبرې زما له ځالي
د نغمو په توګه والوزې مرغۍ شي
او د تا نغمې به زما د بیدیا خوا ته
شوندې پرانیزي ، د ګل غوندې مسکۍ شي

۲۰

www.libtool.com.cn

هغه ورځ چې نیلوفر په غوړیدو و
دریغه زړهٔ مې رانه ورك او آواره و
توکری تشه وه زما ، ګل غوړیدلي
خو د هیچا ورته پام او فکر نه و
* * *   * * *   * * *

بس یو غم و چې یې لاس رانه چاپیر کړ
چې ناځاپه یې له خوبه پاڅولم
د سهیل له خوا عجیبه وږمه راغله
چې خوازه پیام یې ډیره ښادولم
* * *   * * *   * * *

د هغې د آواره پیام خوږوالي
د آرزو غوټیکي راوبخښلي ماته
راښکاره شوه ، په تکمیل پسي وتلي -
د پسرلي د هیلو ډکه سا صحرا ته
* * *   * * *   * * *

ها له نه پوهیدم زه چې دی به ماته
دومره ډیر وي رانژدې لکه زه ځانته
دغه ښشپړه خوږلت مې د زړهٔ تل کې
اوس غوړیږي چې مې وکتل جانان ته

www.libtool.com.cn

۲۱

اوس يې وخت دی چې بېړۍ مې کړم روانه
خوشي وخت را باندې تير شو په ولاړه
چې بې کاره وخت مې تير کړ ډير افسوس دی
ابته مې فرصت لاړ د سين په غاړه
* * *　　* * *　　* * *

پسرلي گل وغوړاوه ، تير شو او زه لا
منتظر يم د مراوو گلو څانگه
مست بادونه چې چليږی شندي هر لور
زيړې پاڼې ، د ساحل د ونو پانگه
* * *　　* * *　　* * *

ولې هسې په حيرت کې يې ولاړه ؟!
آيا نه اورې هغه خوږې سندرې ؟!
ها نغمې چې د امواجو غوندې يوه يوه
سا وهلې شان راځي له لرې لرې ؟

***   ***   ***

د هغو نغمو له ربړد سره مله نه شوې
چې د سين له هغې غاړې اوچتيږي
ايا نه محسوسوې هغه ورځه ته –
چې له دې بنکلو سندرو را لټيږي ؟!

***   ***   ***

هغه ستا د دلدار زغ دی چې تا بولي
نااميده نشې ځان ورته چمتو کړه
تا وربولي ، ها خوا تاته انتظار دی
دا وره بيړۍ موجونو کې لاهو کړه

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

جولایی ده باران اوري
خو کیدارو ته نه سنکاري
خو د ګڼ ځنګله په سیوري
له نګاه یې پاتی ژغوري

پسته اور دی ، پسته اور دی
د تورات غوندي په پټه –
زغ یې نه اوریدل کیږي
خولهٔ ، ورو ، ورو رانازلیږي

ننني ګیځ لا نه دي
ناخبر دی چې سیلۍ نن
پټې سترګې غوړولي
څه تودې ناري وهلي

دي تل وینې شینکي آسمان ته
ځنګلهٔ خپلي نغمي بس کړي
تورو وریځو څادر ورکړ
هر کالهٔ پوري خپل ورکړ

خو یوازې یو تنها تهٔ
په دې چوپه چوپیایي کې
یې په دې کوڅه کې پاته
یې روان په کومه خوا ته

اې زما یوازې یاره !
ما لا ور نه دی ترلی
اې زما خوږه دلداره !
ستا په هیله ، ستا د یاره !

د ویدهٔ په شاني یاره
کور مې غیز درته پرانیستي
زما له کوره مه تیرېږه
د زړهٔ زوره مه تیرېږه !

www.libtool.com.cn

۲۳

ای دلداره ! په دې شپه چې
هم د مینې په سفر یې
لیمه لار نه شي لیدلای
ته له کوره راوتلای ؟!

پرآسمان په غرغرو دی
بادې هم د نامرادیو
گوره تالندې غرمبیږي
په عالم کې دی کړېږي

هردم ور پرانیزم یاره !
خو په دې توره تیاره کې
نن می خوب دی تښتیدلی
هیڅ شی هم نشم لیدلای

زه حیرانه ناسته گورم
د راتلو لار دې ده کومه ؟
ما به خنکه وغانځې ته ؟
په څه لاره به راځې ته ؟!

د تیاره ساحل له غاړې ؟
که د ګن ځنګله له ځنهو
که په خپله په اوبو کې ؟
یا په تورو دریابو کې ؟

راته وایه ، راته وایه
کومه لاره دې تاکلې
زما یاره ، زما یاره !
چې راځې زما د پاره ؟!

۲٤

www.libtool.com.cn

که اوس ورځ وي ختمه شوې ، که تياره شوه
که ورې چنچنې نه شي چونيدلی
که وزمې له پسنو وليدلې زغ يې تت شو
که پستې وزمې اوس نشي چليدلی
*** *** ***

په ما هم يو د تيارې نقاب راخپور کړه
لکه مځکه وي د خوب په څادر نغښتې
يا مانبام چې د کمزورې نيلوفر گل
په ورو ، ورو راټولوي پاڼې او لښتې
*** *** ***

د هغه پرديس اخلاص او شرم ورك کړه
د هغه چې څورې خلاص او لار اوږده وي
چې قوت يې وي انجام ته رسيدلی
او زاړهٔ کالي يې خاورو کې سپيره وي
*** *** ***

چې محتاج دې د کرم دې اې باداره !
هغه واره له خپل لطفه بهره ورکړه
په پرده کې دې د خپلې لطف بخښونکې -
شپې - د گل غوندې يو نوی ژوندون ورکړه

www.libtool.com.cn

۲۵

د ستړیا په درنه شپه کې
چې په تا زما تکیه وي
ماته خپل توفیق عطا کړه
بې تشویشه لمحې راکړه

په هغه یوازې شپه کې
چې د سعې حاجت نه وي
خپله مینه راسره کړه
په خوازهٔ خوب مې ویده کړه

داسې مه کړه چې اروا مې
دا زهیره ستړې روح مې
ستا نمانځنې ته کړم اړه
کړه د خپلې مینې وړه

ځکه ، ته یې چې د ورځو
تور څادر د شپې راخپور کړې
په ستومانو سترګو باندې
ورځ ویده کړې ورنه لاندې

دې د پاره – دې د پاره
د تازه ژوند د خوښیو –
چې سبا ته راوینښیږي
منتظره نه پاتیږي

www.libtool.com.cn

۲۶

دی راغی ، راته کیناست — مگر حیف چي زه ویده وم
څه بدمرغه غوندي خوب ؤ ؟ — څه بدمرغه شانته زه وم ؟

دی راغی هغه وخت چي – — شپه آرامه او چوپتیا وه
ژغ و ژوغ نه وو د هیچا — له پردو تشه دنیا وه

یو بربط یې و په لاس کې — په خوند خوند یې ژغولو
په خوږو خوږو نغمو یې — زما خوبونه نازولو

خو افسوس چي ویده بخت مي — کله هم نه راویښیږي
چي دی راشي زه ویده یم — واړه شپې مي ضایع کیږي

آه ، زه تل ولی ویدیږم — او دیدن یې هیرومه
د هغه چا چي په ساه یې — خوب و خیال ګل خوررومه

www.libtool.com.cn

۲۷

(۱) – رڼا څه ده ، رڼا څه ده ؟ د رڼا خبره وکړه !
– دا آرزو له بلې شوې لمبې جوړه یوه ډیوه کړه

– دا آرزو به مې ډیوه کړم خو لمبه یې نه رپیږي
آه ، زما زړهٔ بدنصیبه چې ترمرګ دې ژوند جاریږي

– ذلت ستا ور تکوي بیا یو پیغام یې دی راوړی
چې ترارسه دې یار ویښ دی د لیدو ځای یې تاکلی

– د آسمان مخ به ورو پټ شو باران اوري نه دریږي
نه پوهیږم په کوګل کې مې څه اور دی نه سړیږي

په مطلب يې نه پوهيږم   چې يوه لمحه بريښنا شي
لا تياره کړی زما په سترګو   بل حجاب مې مخته راشي

www.libtool.com.cn

او زما زړهٔ لتوی لار   هغه ځای او هغې خوا ته
کوم چې ستا د شپو سندري   ما دربولي هلته تا ته !

رڼا څه ده ؟ رڼا څه ده ؟   د رڼا خبره وکړه !
– د آرزو له بلې شوې   لمبې ، جوړه يوه ډيوه کړه

– وريځی بيا اوري را اوري   په فضا کې شور ماشور دی
د دې توري ترورزمۍ مخ   د رنجو تر تيرو تور دی

– خپل ژوند مه تيروه پام کړه   د تياري په حال کی ګله
محبت د لار مشال کړه   دا د ژوند ډيوه کړه بله

(۱) شاعر دلته هم د نورو اشعارو غوندي د يوې مينې پيغلې له خوا زغيږي خو په دې ترانه کې له خپلې نديمې سره خواله کوي – دا کرښې د دوی د سوال او ځواب نخښې دي .

۲۸

www.libtool.com.cn

په ښه لوبو کې یم نښتي — چې وتلې ورنه نه شم
د شلولو هڅه وکړم — خو د زړهٔ په خوږ اخته شم

آزادي ورڅخه غوارم — خو په زړهٔ مې ولولې دي
په آرزو یې هم شرمیږم — څومره سنګلې سلسلې دي ؟

زه باور لرم چې ته خو — بې پایانه خزانه یې
او همدا چې زما یار یې — زما د هیلو پیمانه یې

خو په ما کې ها زړهٔ نشته — چې بس ستا په مینه ریږدي
د خپل کور او خپلې خونې — ننداره درپورې پریږدي

ها پرده چې یم پرې پټه — یو پوټی دی او ورکیږي
ورنه ورټ کوم خو بیا هم — پټ پټ زړهٔ ورته پسخیږي

زه یم ډېره پورورې — ناکامي مې هم سوا دي
زما شرم دروند او پټ دی — آرزوګانې بې حیا دي

خو بیا هم چې زه غوښتنې — در ورم ، زدم یې ستا په وړاندې
زړهٔ مې ریږدي هادي نه وي — چې کړې ګاره کش ورباندې

www.libtool.com.cn

۲۹

چې د خپل نوم په حصار کې -
له دې تورو دیوالونو
مې ساتلې (۱) راته ژاړي
خلاصیدل او وتل غواړي

زه مدام پورې لګیا یم
دغه رنګ بنګ دیوالونه
نوي ختې ورتپمه
ترآسمانه لوړومه

خو چې هرڅومره د خاورو
په سایه کې یې له مانه
دیوالونه مې لوړیږي
حقیقي وجود ورکیږي

زه د دغو دیوالونو
چې کندو پکې جوړ نشي
په هسکوالي باندې ویاړم
په اخیر یې چاره غواړم

خو سره له دومره پوهې
حقیقي وجود مې هیر کړ
او سره له دومره زیاره
د واهي شهرت لپاره

---

(۱) مراد ورڅخه روح دی .

www.libtool.com.cn

۳۰

زه یوازې له کاله نه
ما یوازې تر تا پورې

وم وتلې ستا د پاره
ووهله لویه لاره

خو دا څوك دی ؟ د کوم ځای دی ؟
چې په دې توره تیاره کې

راپیدا شو دا له کومې ؟
پته خولهٔ راسره درومې

که هرڅومره زیار باسم
مګر دی نه جلا کیږي

چې جلایې کړم له ځانه
په هیڅ توګه هم له ما نه

له ډیر خیاله ، له ډیر نازه
په خپل لوړ آواز اثر وړي

ځي د ګوتو په سرونو
زما له نرمو سرودونو

ای باداره ، ای باداره !
دا په خپله زما نفس او –

دا ملګری زما د ژوند دی
دا زما کوچنی جند دی

دی له سره نه شرمیږي
چې له دهٔ سره درځمه

زهٔ په دهٔ پورې شرمیږم
او په ورهٔ کې دې دریږم

www.libtool.com.cn

۳۱

– راته وايه ، راته وايه
څه دي جُرم ، څه خطا وه
ای بندي ته چا بندي کړې ؟!
چې په جيل کې يې خوندي کړې ؟!

– دهٔ ويل :– چې خپل بادار مې
زما د خپل عمل سزا ده
دلته يمه راوستلى
چې بندي يې يم ساتلى

دهٔ ويل :– که څه هر څه مې
د لا ډيرو ډيرولو
له حاجته ډيريدلو
شوق مې زړهٔ وتخنولو

زما خيال و چې هستي کړم
تر دنيا د تسلط غيز
ترشمار او تر حد تيره
کړم سنامار غوندي چاپيره

د بادار حق مې ورنه کړ
د دنيا له خزانو مې
چې کړم زياته خپله ونډه
وترله لويه پنډه

خو چې خوب را باندې راغی
بې پروا لاړم ويده شوم
په دې توره تياره کې
د بادار په بستره کې

www.libtool.com.cn

چې له خوبه رابيدار شوم
دا بندي د هوسونو
هغه گنج مې راته جيل شو
د خپل حرص په لومه بنکيل شو

– دهٔ ويل :– دا زنځيرونه
دغه واړه مې په خپل لاس
دا کړۍ چې درته ښکاري
کړې په ډير احتياط تياري

زما خيال وو دا چه دا به
او په دې زنځير به ځانته
ترجهان راگرزومه
جهاني قدرت گټمه

شپه او ورځ مې زيار وکيښ
په ظالمو گذارونو
شپه او ورځ مې په ځان يوه کړه
مې دا اوسپنه پسته کړه

ځو چې کلکې کړۍ درستې
په زيارونو ، په ربړونو
يوه له بل سره کوشير شوې
سرې اوسپنې زنځير شوې!

زنځير جوړ شو خو له شرمه
چې په لوی لاس مې دې خپل ځان
چاته نه شمه ژړلی
په دا خپل زنځير ترلی

www.libtool.com.cn

۳۲

د دنیا د دغو خلکو
ما له هرې خوا تړې دی

چې په بنو یې راته پام دی
دا خو مینه نه شوه دام دی

خو ستا مینه داسې نه ده
تا آزاده یم پرې ایښې

که څه ده تر هرڅا ډېره
نشته ستا په زړه کې وېره

دوی وېرېږي هسې نه چې
دا جرئت نشي کولای

رانه هېر شی که تنها شم
چې آزاده لاړه راشم

شپې او ورځې راغلې لاړې
ستا د مینې بل انداز دی

چې ځان نه راښکاروې ته
آزادې نه سلبوې ته

که څه لیز دې یادوم زه
خو بیا هم ستا پاکه مینه

ځای دې نه نشته په زړه پورې
زما د مینې لاره ګورې

www.libtool.com.cn

٣٣

سحه سپينه رونه ورځ وه   چي دوق راغلل زما كور ته
دوى وي :- ستا غوندى ده مونږ هم   مخه كړي د خداى لور ته

ليږ څه ځاى راكړه چي مونږ هم   كړه له تا سره خداى ياد كړو
او په فضل او مرحمت يي   دا بيوزلي زړونه ښاد كړو

په يوه گوټ كي مي ځاى وركړ   پټه خوله ول ، سنجيده ول
شپه او ورځ به لوى خاوند ته   په دعا او په سجده ول

خو يوه شپه مي په تياره كي   ورته وكتل چي څه كا ؟
په لوټ مار باندي لگيا دي   څه وراني دى چي يي نه كا ؟

زما پاك حرم يي لوټ كړ   شرم يي وغورزاوه شا ته
زما هر څه يي تالا كړه   هيڅ يي نه پرېښودل ماته

www.libtool.com.cn

٣٤

صرف د خولې او د خبرو
چې په هغې مې ای هرڅه

دومره برخه راکړه ما ته
بس درنارې کړمه تا ته !

ما ته دومره آرزو راکړه
تنها تا محسوسومه

چې د هغې په رڼا کې
په هر لور په هره خوا کې

بس یوه دومره وړه برخه
درته ګورم - راته ښکارې

راته پرېږده چې د تا یم
راته وایې - درته وایم

ستا د عشق په زولنو کې
هسې ژوند چې پرې پوره مې

پابندي ستا د رضا را
شي مقصد د مینې ستا را

www.libtool.com.cn

۳۵

هلته ، هلته چې له زړونو ډار او ویره وي لیښلې
آزادي او سرلوړي وي علم و پوهه وي منلې

هلته ، هلته چې نه شر وي ، نه فتنې وي ، نه جنګونه
نه ورانیږي ، نه نړیږي د کورګیو دیوالونه

هلته ، هلته چې الفاظ وي د رښتیا په چینو ولي
په کوم ځای کې چې خپلواك زیار د تکمیل په طلب زغلي

چې روڼې چینې د عقل نه شي پټې په وهمو کې
د فضولو رواجونو په شګلنو ځنګلو کې

هلته ، هلته چې فکرونه ستا له لطفه بهره مومي
خیال او پام او عملونه د پراخوالي په خوا درومي

دا زما سمسوره مینه ای باداره ، ای باداره !
په هغه آزاد جنت کې په خپل لطف کړه بیداره

www.libtool.com.cn

۳٦

لویه خدایه ، لویه خدایه
د افلاس بدي ریشي مې
که قبولي مې اسرې کړې
له کمزوري زړهٔ نه پرې کړې

داسي توان راکړه چې پیښبې
او غمونه ، خوشحالي مې
مې زړهٔ نشي خوځولای
په آسانه شم زغملای

چې غریب ته مې نظر وي
د گستاخ قوت په مغ کې
په خواري یې زهیریزم
پر گونډو نه شم دریږم

قوت راکړه چې خپل نفس مې
ستا رضا ته وسپارم ځان
له ناوړو چارو لوړ کړم
او زړهٔ ستا له میني ورکړم

www.libtool.com.cn

٣٧

زما خیال و چې په پښو کې –
د سفر قوت شو ختم
مې نور زور نه دی را پاته
لار ده بنده هري خوا ته

څوری خلاص او لارې بندې
یوهٔ خاموښ خلوت ته پټه
اوس یې وخت دی چې تباه شم
پناه وروړم او پناه شم

خو چې ګورم ستا رضا لا
ستا قوه د ارادې لا
زما د لویې لارې مله ده
زما د ژوند بار و بنه ده

چې زاړه تکي په ژبه
بیا یو څو نوي نغمې مې
اړوم اړوم مړهٔ شي
راخوري د زړهٔ په زړهٔ شي

او چې چیرته زړې نخښې
هلته نوی ملك د نویو
له نظره محوه کیږي
عجایبو څرګندیږي

www.libtool.com.cn

۳۸

زما په زړه کې تکراریږي
دا چې زه دربانديږ ویارم
زما په روح کې مشغولیږي
بس یو تا غوارم ، تا غوارم !

د دنیا چې خومره هیلې ،
دا چې شپه او ورځ په ذهن
درستې پوچې دي او تشې
آرزوګاني دي ، اسرې دي
او په زړهٔ زما خورې دي
بس یو تا غوارم تا غوارم !

لکه شپه چې د نور هیله
د غفلت د تل آواز مې
په هرحال او په هروخت کې
پټه ساتي په تیاړو کې
ازانکه کړي په نارو کې
بس یو تا غوارم ، تا غوارم !

لکه مست طوفان په ټول زور
له عصیانه مې ستا عشق ته
خو دی هم په ډاګه وایې :-
امن مات کړي او رامیږي
صدمه که در رسیږي
بس یو تا غوارم ، تا غوارم !

۳۹

www.libtool.com.cn

هغه وخت چې دغه زما زړهٔ وچ او سخت شي
ته په ما باندی د رحم باران وکړه !
هغه وخت چې مې ژوندون له مينې تش شي
د نغمو پردو کی راشه ، احسان وکړه
* * * * * * * * *

د جهان د فتنه زا چارو په شور کې
چې ما هم ورسره بيايي ، راشه راشه !
له سکون او له آرام سره خاونده !
په بې صبر او ناکراره زړهٔ کې تا شه
* * * * * * * * *

هغه دم چې دا بيوزل او بينوا زړه
د زندان په يوهٔ گوټ کې غلی ژاړي
په شاهي جاه وجلال يې ور ورمات کړه
ای زما باچا ! راتگ دې درنه غواړي
* * * * * * * * *

هغه وخت چې مې د زړهٔ په ارزوگانو
د باطلو وهمو گرد پريوزي ته راشه
ته اې تل تل پاك او ويښه ، تنها خدايه
له رعدونو ، له بريښناوو سره راشه

www.libtool.com.cn

٤٠

زما خدايه ! له ډير وخته مې له تا نه
دغه تږى زړه د رحم باران غواړي
يو نرى څادر هم نشته د ورو ، مځکه -
له دې لوڅو افقونو امان غواړي

يوه تيته ، لالهانده نخښه نشته
د خورا لرې باران د لندبل هم
د آسمان ليمه له نمه خالي سنکاري
او وچ شوى دى د مځکې د زړهٔ تل هم

يو د مرګ غونډي خوفناکه طوفان تېيت کړه
که د تا رضا هم دغه شاني وي بيا
د برېښنا اوږده غمچينه پسې واخله
چې آسمان له سر تر پښو وپړوي بيا

www.libtool.com.cn

اې باداره ! بيا در وبوله حضور ته
دا ظالمه د بدن سوهان تودوخه
دا ساکته ، ساه نيولې ، ساه نيونکې
ډارونکې ، سوځونکې شان تودوخه

ستا د مينې له اوريځو څخه غواړم
چې يې داسې وي د مځکې په لور سترګې
لکه پلار چې وي په قهر او لندې شي
په هغه وخت کې له اوښکو د مور سترګې

www.libtool.com.cn

٤١

تا په سيوري کې ځان نغښتی دی دلداره !
چيرته لرې يې ولاړ د تولو شا ته ؟
په کچه سړک يې دوري درباديږي
تيل وهي دي ، پام وخيال يې نه وي تاته
* * *   * * *   * * *

څو ګړی وشوې چې دلته منتظره
نذرانه په لاس ولاړه يمه تاته
هر لاروی مې له تکري يو ګل وراخلي
اوس نژدې دی چې يو ګل نه شي را پاته
* * *   * * *   * * *

ګیځ تیر شو ، غرمه لاړه ، اوس ماښام دی
زما لیمې له خوبه پتې پتې کیږي
هرڅوك ځي خپلو کورو ته چې ما وینې
www.libtool.com.cn
راته خاندي ، څورو وي مې ، نه شرمیږي
*** *** ***

زه یوه خواره ، پلو غاړې جینکۍ یم
رهروان فکر کوي چې پکر غواړم
سترګې ښکته واچوم او په خواب کې
چې څواب نه لرم پټې سترګې ژاړم
*** *** ***

آه ، رښتیا هغوی ته کله شم ویلای
چې زه ستا په وعده ګورمه ستا لار ته
زه له شرمه څنګه ووایم چې زه خو
بې غریته جهیز نه لرمه یار ته
*** *** ***

دا غرور مې د خپل زړهٔ په تل کې ونغښت
پر وښو ناسته او ګورمه آسمان ته
ستا ناخاپه راتګ وینمه په خوب کې
چې راځې په ډیر عالي شوکت او شان ته !
*** *** ***

د بکۍ زرین بیرغ دې ورپیږي
یوه سپیڅلې رڼا تیت شي و هر لور ته
درست حیران شي ، چې راکوز شي او زما سر
کړې په مینه له سپیرو خاورو درپورته

او يوې داسې بې پناهې جينکۍ ته
ستا له ځنګه ځای د ناستې مونډل کيږي
کومه خواره چې له شرم او له نخو ته
لکه پاڼه په نرۍ وږمه رپيږي
www.libtool.com.cn
***　　***　　***

خو ، وخت تير شو لا دې زغ د بګۍ نشته
داسې ښکارې چې دا واړه خوب وخيال وو
جلوسونه راغله ، تير شول د وګړو
د هغو چې کوم له درده فارغبال وو
***　　***　　***

آيا ته هغه په پټه خوله ولاړ يې
په يوه سورې کې د ټولو خلکو شا ته ؟!
او زه دغه منتظره يم چې ژاړم
د ستومانو آرزوګانو ستومانتيا ته

www.libtool.com.cn

د سحر په خړه وړه
دا آواز مې شو تر غوږه
چې د لمر وړانګې لا نه وې
چې په خوند يې راته ووې :-

چې يوازې زه او ته به
ځو به ځو به هغې خوا ته
په بېړۍ کې روانېږو
چې بس زه او ته پوهېږو

د بې پايه سفر حال به
له مقام د ناپاکلې -
پټ ساتو نه به يې ښايو
عبادت به هيڅ نه وايو

په بې څنډې سمندر کې
کوم چې درسته توجه دې
ستا د پټې موسکا وړاندې
زما سندرې نغمې کاندې

د ښېو غوندې آزادې
د وږمو غوندې فارغې
د الفاظو له کړېو
له موجونو ، له بيړېو

دا ده شپه هم رارسيږي
مرغۍ الوزي يوه يوه
د ساحل تر څنډو پورې
ځي تر خپلو ځالو پورې

آيا وخت يې نه دی اوس هم
دا بيړۍ له سترګو پټه
چې دا کلك څنځير پله شي
د غروب ورروستۍ شغله شي

٤٣

www.libtool.com.cn

هغه ورځ ، هم هغه یوه ورځ
تیار نه کړای شو ، او راغلې –

چې ما ځان د تا د پاره –
ای زما د زړهٔ واکداره !

د عادي سري په توګه
زما په زړهٔ ننوتلې

ناخبره ، نابېره
ای زما له زړهٔ خبره !

زما د ژوند فاني لمحې دي
او چې نن هغو لمحو ته

کړې په مهر جاویداني
اړوم سترګې روښانې

راته ښکاري چې ها ټولې
لکه زما یاد یې پرتې دي

زما په هیرو ورځو شپو کې
په دې خاورو ، په خاشو کې

تا زما د کوچنیوالي
خو هیڅکله په نفرت او –

لوبې خاورې کې لیدلې
کرکه نه و کړزیدلې

کوم قدم چې مې د لوبو
اوس له ستورو ځخه اورم

په کورګي کې اوریدهٔ ږغ
د هغه د ستنیده ږغ

زما خوښې په دې کې نغښتې
خو چې سیوری ځې رڼا پسې

چې یم ستا په انتظار کې
او زه ناسته یم په لار کې

www.libtool.com.cn

٤٤

زما خوښي په دې کې نغښتې — چې یم ستا په انتظار کې
څو چې سیوری ځي رنا پسې — او زه ناسته یم په لار کې

څو باران د هسك له لوري
د گرمـي په سترگو اوري

څه تازه زیری راوړی — رو یبار بیا له آسمانونو
تیږیك وايي او را درومي — یأس وړي له ارمانونو

زړهٔ مې ښاد او طبعه ښه ده
د وږمې ساه هم خوږه ده

له سهاره تر ماښامه — یمه ناسته په خپل وره کې
او پوهیږم چې را درومي — خوشحالی په اندیښنه کې

خوشحـالي په ناگهانه
کړي د هیلو کور روښانه

په دې حال کې زه مسکیږم — د خوښي سندرې وایم
او یوازې مې په زړهٔ کې — د مستي سندرې وایم

لـرم هیله چې له باده
د پیمان په بوی شم ښاده

www.libtool.com.cn

٤٥

د قدم ببسته سنکالو یې ته هم اوري او که نه ؟
په هر دم – هره غځه کې هره ورځ او هره شپه
واوره تل هغه را درومي !

ما په ور ور کیفیتونو د ښادیو ، د غمونو
آواز ورایه څو وزي دا آواز له آوازونو :–
واوره تل هغه را درومي !

د « اپریل » د تودې میاشتې په خوشبویه ورځو شپو کې
د ځنګله له خوابه راشي داسې اورم په ځنګلو کې
واوره تل هغه را درومي !

د « جولای » د باراني میاشت په یوه توره تروږمۍ کې
د بریښنا په تری لاره د اوریځو په بګۍ کې
واوره تل هغه را درومي !

چې غمونه را چاپیر شي د دهٔ پل مې تر زړهٔ لویږي
په مسنود یې د زرین ګام زما د زړهٔ خوښي ځلیږي
واوره تل هغه را درومي !

www.libtool.com.cn

٤٦

نه پوهېږم چې له کله
چې له ما سره یوځای شي
ته راځې او رالنډېږې ؟!
را روان یې نه درېږې

که ستا لمر دی ، که دې ستوري
تا زما له سترګو نشي
که سپوږمۍ ده جلوه ګره
پټولای زما لمره !

په شپو ورځو دې ګامونو
ستا روېبار مې د زړهٔ کور ته
په سنګالو وپارولم
راغی ، پټ یې وبللم

نه پوهېږم چې نن زما ژوند
د خوښۍ حس مې په زړهٔ کې
ولې دغسې اوتر دی ؟
په څه هسې شناګر دی ؟

اوس یا هغه وخت راغلی
چې له تا مې اړوي پام
چې هر کار کسب ته شا کړم
له هر څه سترګې پنا کړم

د پستې ورزمې له څانګو
ستا د نن یوه لطیفه
تسلې را ټولومه
خوشبویې محسوسومه

www.libtool.com.cn

٤٧

شپه نژدې ده چې شي تيره
ستوماني مې غالبيږي

په بيکاره انتظار کې
هميشه يم په دې ډار کې

کوم سهار به دې ناڅاپه
زه به ستړی او ستومانه

راشې زه به ويښ نه يم
د غفلت په خوب ويده يم

آه ، يارانو ، عزيزانو
زه ويدم وم ، او دی راغی

که راته ، کله ، له کومې
لار ورپريږدئ چې را دروميږي

که د ده د قدمونو
په رونه سحريې هم که –

په ښکالو نه شوم راويښ
په راتلو نه شوم راويښ

دا هم نه غواړم چې ویښه
د رڼا جشن کې ګډه
د چنچنو په غوغا شم
د ورمې په د لاسا شم

ما هم هسې ویده پرېږدئ
که بادار مې هم ناخاپه
چې داده خوب مې خوښیږي
راځي وره ته مې دریږي

www.libtool.com.cn

آه ، زما خوب ، او دا خوږ خوب
بس د لطف او مینې لاس یې
چې له سترګو نه وتلای
د محبوب شي تشولای

آه ، لیمې مې صرف د هغه
لکه خوب په نیمه شپه کې
د موسکا په نور روڼیږي
چې زما سر ته دریږي

پرېږدئ ، پرېږدئ چې تر ټولو –
اول دې وینم په سترګو
رڼاګانو ، صورتونو
چې ویښیږم له خوبونو

زما د ویښې روح لپاره
زما راتله له خوبه ځانته
د خوښۍ لومړۍ ځلا شي
فوراً دهٔ ته ستنیدا شي

www.libtool.com.cn

٤٨

د سکوت په سمندر کې
د مرغانو نغمې راغلې
چې سحر پورته نغمې شوې
او ورې ورې خپې شوې

د سرك په غاړه غاړه
او د وريځو له چولو نه
د گلونو ننداري وې
طلايي ورانگې خپرې وې

خو زمونږ ورته پام نه وو
هيڅ پروا مو د دې سنګلو
خپله لاره مو وهله
مناظرو نه ساتله

نه مو وبلله چيرته
نه مو وخندل له شوقه
د خوښۍ يوه سندره
نه مو وكړه يوه خبره

نه د کليو خوا ته لاړو
نه مو کومه لوبه وکړه ،
د ښه سود سودا د پاره
نه هوسا شوو ؛ تلو په لاره

چې وخت لنډ او سفر اوږد و
خومره وخت په تيريدو و ـ
ځکه دومره ګړندي تلو
مونږ به هومره ګړندي تلو

www.libtook.com.cn

لمر تندي ته مخامخ شو
غومبر سيوري کې وهله
ګرمي تيتې کړې وزرې
ښايسته مستي کوترې

کوخۍ ننوتې غار ته
د غرمې تودې هوا کې
مرغۍ ځانګو کې شوه غلې
وچې پاڼې الوتلې

د شپيا نه بچي تر ونې –
بې اختياره يې له خوبه
لاندې ناست دی او زنګيږي
سر يوه بله خوا کيږي

د اوبو په غاړه ما هم
پر وښو باندې خپاره کړه
خپل ستومانه اندامونه –
چې سوکه مې شي هډونه

زما ملګرو مسخره کړم
زه يې پريښودم له کبره
په ريشخند راته مسکي شول
په نفرت رانه رهي شول

نه يې شاته پام او خيال و
خو د وخت په شنه بخونه
نه سوکه شول ، نه په ځټ شول
ګردله کې رانه پټ شول

دوی له ډیرو هسکو تیتو
له عجیب عجیب ځایونو

چمنونو نه هم تیر شول
له ملکونو نه هم تیر شول

د اوږدې او بې پایانې
عزت ستاسي په قسمت دی

لارې تلونکو ، رهبروانو ؟!
فخر ستا سو دی ځوانانو ؟!

www.libtool.com.cn

پیټ پیغور کرمه چونګارې
هیڅ خواب راسره نه و

دغې ګرمې پاخولم
پټه خوله ودریدلم

ما خپل ځان د یوه مسرور عجز
د تیارو سر ور په سیورې

په ژورو کې لیدلو
کې ، مې پټ او ورك ګڼلو

د سکون د تیاره سیورې
له ما هیر کړ هغه فکر

چې په لمر و جړ او شوی
چې زه څه ته وم راغلی ؟

چې را پاڅیدم له خوبه
د موسکا سیل دې پرې ایښې

ته ولاړ وې زما سر ته
زما د خوب پراته ډګر ته

آه ، زه څومره ویریدمه
ما وې تاته رسیدل به

له اوږدې او سترې لارې
ناممکن کړې سختې چارې

www.libtool.com.cn

راغلې ، راغلې لهٔ پل تخته شوې راښکته
راغلې ، راغلې او زما کالهٔ ته راغلې !

ما یوازې د کورګې په یوهٔ ګوټ کې
د خپل مات زړګي نغمې راژغولې
زما د عجز او غریبي تنې سندرې
تا د مینې په غوږونو واورېدلې
راغلې ، راغلې او زما جوګې ته راغلې !

په دربار کې دې پاخهٔ استادان پند دي
چې هر یو درته هروخت وایې سندرې
خو هغه چې ستا په زړهٔ یې اثر وکړ
وو د دغې نو آموزې را منتګرې
ځکه راغلې او زما جوګې ته راغلې !

زما سرود سره د ساز لهٔ لوی جهان نه
یو تنکی زړهٔ پارونکی آواز مل و
تا یو ګل د جایزې په توګه راکړ
خومره ښکلې جایزه ، خومره ښه ګل و ؟
راغلې ، راغلې او زما جوګې ته راغلې !

www.libtool.com.cn

۵۰

چې د پکر په خيال ووتم له کوره
لکه سيورى هر ديوال ته دريدمه
د خير راکړئ زغ په خولهٔ ، کچکول په غاړه
کور په کور او وره په وره راګرزيدمه
*** *** ***

د ځلانده خوب په خير ماته له لرې
ستا زرينه شاهانه بګى ښکاره شوه
زه حيرانه پاته شوم چې کوم باچا دى
چې ليدو ته يې بيواره نظاره شوه ؟
*** *** ***

امیدونه مې راپاخیدل په زړه کې
آرزوګانې لکه ګل په غوړیدو شوې
زما خیال و چې که خیرو بخت راویښ شو
www.libtool.com.cn
اوس مې بدې ورځې خې په تیریدو شوې
*** *** ***

زه په لار کې منتظره وم ولاړه
چې باچا ګوندې بې غوښتو یو څه راکړي
په دولت کې به مې ډوبه کړي له جوده
له سرو سپینو به مې ښکلې شاوخوا کړي
*** *** ***

ستا زرینه بګۍ راغله هلته تم شوه
په هغه ځای کې چې زه ومه ولاړه
راته مسك شوې او راکوز شوې زما خواته
د نیستي وسوسه واړه له ما ولاړه
*** *** ***

ما دا حس کړه چې آخر زما په ژوند کې
د خوښۍ د لمحو وار راتهٔ او راغی
د حسرت شپې لاړې دا دی چې پخپله
د جهان د باچاهانو سردار راغی
*** *** ***

زه په دغو هوسنوڅغوړیدمه
چې ناڅاپه دې ښۍ لاس ونیوې راته
او پوښتنه دې له ما وکړه چې ګوره
راوړه څه شی دې راوړي جینۍ ماته ؟!

چې دې لاس دی یوې پکیرې ته نیولی
آه ، دا څه شاهانه ټوکه ده باداره ؟!
پریشانه شوم ، خو لاس مې کړ بنیء ته
چې دانه غنم راواخلم ستا د پاره
www.libtool.com.cn
*** *** ***

چې ماښام مې کوږ کړه خپله بنیء تشه
حیراني مې هغه وخت کې شوه لا ډیره
چې د پکر په غله کې مې واهه لاس
یوه د سرو زرو دانه شوه را برسیره
*** *** ***

په رټ رټ مې اوښکې توېې شوې له سترګو
هی افسوس چې بدمرغي کړمه نادانه
کاشکې تا ته مې وای هر څه وراندي کړي
کاشکې درسته در جار شوې وای سلطانه !

www.libtool.com.cn

٥١

شپه ده تیاره شوې کلیوال درسته راغلي دي
زمونږ ورځنی چارې خو هم پای ته رسیدلي دي
خنکه چې وروستي میلمانه هم ځای په ځای شوي دي
ننوتو خونو ته او وروڼه مو تړلي دي
*** *** ***

چا ویل :- باچا راځي او هم په دغه شپه راځي
مونږ وخندل ومو ویل :- نه یې منو ، نه راځي
چا ویل :- ځوك راغی مګر ، وګورئ چې ور وهي
مونږ وویل :- هیڅوك نشته باد به یې په سر وهي
*** *** ***

مړې مو کړې ډیوې او تاریکي ته مو پناه ورووړه
پریوتو بستر ته مو له ستونځو ستړې ساه ورووړه
*** *** ***

www.libtool.com.cn
چا ویل :- روبیار راځي خرپې یې د ګامونو دی
مونږ په خټ خټ وخندل چې زور د شمالونو دی
*** *** ***

نیمه شپه یو زغ شو ، مونږ وې تالنده غوریزې بیا
مځکه ، دیوالونه پرې رپیږي او خوځیږي بیا
خوب را څخه لاړ او چا وې ، دی د ارابو آواز
مونږ له خوبه ووې :- دی د تالندې او ورو آواز
*** *** ***

شپه لا تیاره وه د ډولونو د ډنګا زغ شو
« هلئ پاځئ ، ځنډ مه کوئ » جوخت ورسره دا زغ شو
مونږ په بیړه پاځیدو له خوبه چې ناري شوې بیا
هغه دی شاهي علم او دا دی نغارې شوې بیا
*** *** ***

مونږ سره ناري کړې چې معلومه شوه باچا راځي
هغه هم په داسي تنګ فرصت کې په دې خوا راځي
کومه ده ډیوه ، او امیل کوم دی ، تخت له کومه کړو ؟ ...
کومه ده یوه روغه خونه ، فرش او رخت له کومه کړو ؟ ...
*** *** ***

شرم دی ، ډیر شرم ؛ چې نه ظرف او نه کالي لرو
مونږ به د باچا په راتلو ولې خوشحالي لرو ؟
*** *** ***

چا ویل :– بې ځایه سورې بس کړئ او شرمیږئ مه
هسې په تش لاس یې روغبړ وکړئ په شا کیږئ مه
وریې ولئ خپلو تیاره تورو کنډوالو لره
ځکه د دهٔ جوړه ده له ټیټو دیوالو سره
www.libtool.com.cn
*** *** ***

ورونه ورته بیرته شول ، ناقوس په زغیدا راغی
زمونږ د چوپتیا کور ته په تیاره شپه کې باچا راغی
تالندې غورېږي ، د برېښنا له رڼا شپه رېږدي
توره تروږمۍ ده د سیلۍ له وهمه پښه رېږدي
*** *** ***

راشه ، ورته خلاصه دې د رنګې خونې لاره کړه
نور دې که څه نشته یود زړه پوزۍ اواره کړه
ځکه چې زمونږ د دې مهیبې شپې باچا راغی
ګډ له دې طوفان سره ناخاپه په دې خوا راغی

www.libtool.com.cn

٥٢

ما وې زه به درنه غواړم
خو دا زړه را سره نه و

ستا امیل د سرو ګلونو
چې مخ لوخ کړي د رازونو

منتظره شوم سهار ته
ګوندې پاته وي خو پانې

چې ته پاڅې له بستره
زه يې تولې کړم دلبره !

سحر بيا لکه بيوزلې –
په دې ټه ګرزيدمه

درويزګره چې لګيا شي
چې يو دوه پانې پيدا شي

دريغه ، هيڅ په لاس رانغله
ستا د مينې کومه نخښه

ستا د سرو ګلو له هاره
پاته نه وه زما د پاره

نه کوم ګل شته ، نه يې پاڼه
نه خالي شيشه د عطرو
نه خوشبويه مساله شته
نه يې نخښه ، نښانه شته

www.libtool.com.cn

بلکې بس ستا تيره توره
خو بيا هم چې دی ستا لطف
چې لمبې غونډې کړيږي
د بريښنا غونډې ځليږي

اوس په دې دنيا کې ماته
زما پر هڅو بريالی‌شوې
له رڼا پټې تيارې شوې
په بستر باندې خورې شوې

زه به هرڅه ورته جار کړم
علايق به باندې پرې کړم
چې ويل يې هسې ما ته :-
چې يې وسوداى شي چا ته ؟!

دار او بيم به رانه تښتي
اوس حقير آرايشونه
نه عطرونه ، نه ګلونه
چې رېبيږي ور نه زړونه

خپلو زلفو ته مې شا کړه
اې زما د زړهٔ مالکه !
انديښنو کړم را ايساره
چې دې راکړ ماته ياره ؟!

نه د خونې په يوه ګوټ کې
نه زما په کره او وره کې
چيرې هم نه پټيدله
زما سينه يې تخنوله

تا د سم سينګار لپاره
اوس له ما سره نور لوبې
ما به څنګه ګرزوله ؟
شرميدم له دې عمله

او زما زړه بې اختیاره
لکه تالنده درنه ده
ښه له دې نه غوره نشته
ښه د ډار خبره نشته

چې سهار مې تر کړکیو
نوې نوې پلوشې دې –
بس یو سرګ دې راته پرېښود
د ژوند خول مې ورته کېښود

www.libtool.com.cn

اوریدل مې له مرغیو
وایه ، تا سره ښه شی شته
چې ستا توره راسره ده
چې دا توره راسره ده

نه در پاته عود بټی ده
بس دا لویه تیره توره
ترکومه او پرېږدمه
زړه په هیڅ شي نه ترمه

په حیرت کې ووېه ناسته
چې دې دا ښه ور انعام و
اوس نه چا پسې ګرېږم
پټه خوله ناسته ژړېږم

دا تیره توره به ښه کړم
که مې وای په غاړه کړې
ده ښه ناز یا ادا پاته
دغه توره راکړه ماته

توریالی ګرزوي تورې
زه کمزوري جینکۍ وم
د نانځکو نه جوړېږي
آرایش ته نه توپلیږي

www.libtool.com.cn

دا د لاس د سرو وښي دي
غومره ښکلی معلوميږي
رنګ په رنګ ايښي غمي يي
لکه ستوري تل ځليږي
خو تر دي هم د تا توره
مسا ته ډيره ده منظوره

چي له ډيره آب و تابه
د بريښنا غوندي کږه شي
د « وښنو » د کونټرونو
غوندي ښکلي ، ښايسته شي
د غروب د لمر شغله شي
له قارجني سرخي سره شي

هغه ريږدي ، لکه ريږدي
په ډير درد کي ناقراره –
د اجل په کاري واري
د ژوندون ځواب له ډاره
چي رپيږي ، چي ځليږي
ژوند و مرګ ورنه ويريږي

هغه بريښي خو له بريښه
لکه بل اور د پيلو ځي
د دنيا هوا هوس ټول
په سپيڅلي لمبه سوځي
زما خوښه تر هر شي ده
ښايسته دي تر وښي ده

لکه هسک په رڼو ستورو
ستا وښي جواهر کاره
ښايسته دي ، خو ستا توره
اى د تالندو واکداره !
هم بيساري ده جلوو کي
هم هيبت راولي زړو کي

www.tbtool.com.cn

منم ، ډېره بې غمجنه اندېښنې دې ميلمنې دي
او درنې سترګې دې ډېرې له درانه خوبه درنې دي

نه پوهېږې چې ګل څنګه حکومت کا په اغزو کې ؟!
پاڅه ، پاڅه ضايع کېږي فرصتونه په خوبو کې

د دې لو لارې په پای کې هلته لرې ، په ها لورې
په پرديس عالم کې ګوښې ستا لالی ستا لاره ګورې

له هغه سره دروه مه کړه سترګې وغړوه پاڅه
له خوبونو دې په زړهٔ کې مينه مه سړوه پاڅه

د غرمې د لمر له تاوه که سرې شګې نينې کېږي
څه پروا که له تودخې د آسمان هم ساه ګوډېږي ؟

آيا ستا د زړهٔ په تل کې هيڅ سرور نه موندل کېږي ؟!
چې جرس دې شي د لارې مزلونه پرې لنډېږي

څه پروا که د کړاو دا – اوږده لاره بنه اوږده شي
د هر سترې پله سبکالو به يوه خوږه غوندې نغمه شي

کندز ۸ / ۱ / ۵۵

www.libtool.com.cn

٥٥

څه خو شته ، څه خو شته یاره ! بې څه نه دی
چې دا زه دې دومره خوښه یم ساتلې
دا هم نه ښکارې بې څه چې شوې راښکته
په راتګ دې بې څه نه یمه ځانځلې
*** *** ***

ای مالك د آسمانونو ! که زه نه وای
د تا مینه به وای چیرته اوسیدلې ؟
تا په خپلې بې پایانې لو هستې کې
زه له ځان سره شریکه یم ګڼلې
*** *** ***

زما زړهٔ دې په کاملې مینې ډك کړ
زما مینه دې په خپل لطف روزلې
ستا رضا زما په ژوند کې مشغولیږي
چې هر دم یې ښیره بل شان اړولې

www.libtool.com.cn

***   ***   ***

ای باچا د باچهانو ! دې د پاره
چې زما د زړهٔ مرغی دې وي نیولې
ځان راښیی د جهان ترښکلو ښکلې
هرساعت دې وي ښکلا تریخوا ښکلې

***   ***   ***

او د دې غرض لپاره دې وي مینه
د غوښتونکې زړهٔ په مینه کې اخزلې
دواړه ګډې کړې چې بیا د دوی له مینځه
د کامل وحدت ښیره وي تا ښودلې

www.libtool.com.cn

اې ، اې رڼا ، رڼا
ځلونکې د دنیا
مچوونکې د لیمو
زما د ژوند په زړهٔ
اې – اې ښکلې رڼا
تارونه ریږدوې

اې – اې زما رڼا
د زړهٔ صفا رڼا
پاروونکې د آرزو
کوې نڅا رڼا
زما د عشق د ساز
ټنګوې لکه شهباز

* * *

آسمان سره غوړیږي
خندا د تا له لطفه
مرغان له خوشحالۍ نه
وزرونه راخواره کړي
رابیل دي که سمن
د رڼا په نرو ګوتو

وزمه شي په ټوپونو
خوره شي په ملکونو
راتیت شي په سیندونو
په خیر د بادوانونو
نور ته سترګې غړوي
خپلې غوټې غوړوي

* * *

اې – اې زما محبوبه !
وریځې یې له بریښنه
جړاو شي توري وریځې
او پاڼې په خوښیو
سیلاب د خوشحالیو
ډوبوي یې خوند و رنګ

رڼا چې وځلیږي
تکړ ، تکړ بیلیږي
چې ورانګې پرې لګیږي
همه واړه وغوړیږي
ورنیسي نړۍ واړه
د جنت د چینې غاړه

www.libtool.com.cn

٥٧

پریږده زما په وروستنۍ نغمه کې ځای شي
د خوښیو همه واړه فشارونه
د پسرلي خوږه وږمه شي او په ځکه
راخوره شي او ژوندي کړي بهارونه
*** *** ***

ها خوښي چې مرگ و ژوند نځوي دواړه
ها خوښي چې مرگ و ژوند وته نڅا کا
ها خوښي چې د طوفان غوندي ځبي ژوند
بیا په برخه د ژوندون مسته خندا کا
*** *** ***

ها خوښي چې پټه خوله ، په ډکو سترگو
په رقت سره کړي گل باندي پرته وي
او هغه چې نور له ټولو موجوداتو
بینیازه او د لفظ پابنده نه وي

www.libtool.com.cn

۵۸

ای زما د زړه محبوبه ! زه پوهیږم
دا چې پاڼې رڼوي زرینې وړانګې
دا وږمې چې مې سړې په مخ لګیږي
دا له ګلو – له غوټیو ښکلې خانګې
دا په هسك کې لامبوزنې شانته وریځې
واړه هیڅ دي خو باقي ده یوه ستا مینه
***　　***　　***

د سهار رڼا زما لیمه توفان کړي
دا سې دی د تا پیغام زما د یاره
مخ دې دې پلو کوږ کړی او له پاسه
ښکته غلی غلی ګوره ماته یاره !
زه په تیټو سترګو پټ پټ درته ګورم
زما زړهٔ دې قدمونه ښکلوینه

www.libtool.com.cn

۵۹

هرځای چې په ساحل د سمندر ځپې لګیږي
واړهٔ سره راټول وي او په خندو کې لوبیږي
پاس چې لوی او ارته آسمان ته ګوري غلي وي
لاندي لټ پلاندو ځپو بحر درست نیولی دی
هرځای د دنیا د سمندر په هره غاړه
غونډېږي ورو لوبو ته واړهٔ ماشومان واړه
*** *** ***

دوی د شګو خوني جوړوي او ورانوي په شوق
شګې اړوي او تش ګوجې ورټولوي په شوق
وچې پاڼې ټولي او بیړۍ ورته تیارې کړي
بیایې په خندا ، په مستۍ بحر ته غورزارې کړي
هرځای چې یې ګورې ماشومان د سیند په غاړه
هسې وي مشغول په اوتو بوتو باندی واړه
نه پوهیږي دوی چې لامبو ځنګه وهل کیږي ؟
نه په دې خبر وي چې تور ځنګه سیند ته لوېږي ؟
*** *** ***

سیپې ورتېولوېکي مرغلرو پسې غوتې وهي
گرزي سوداگر او په دریا کې ورځي شپې وهي
مگر له ماشوم سره د کتې وتې غم نه وي
شکې تېولوي بیایې ښیندي د کوتې غم نه وي
نه یې د خه پتو خزانو سودا په سر کې وي
نه یې د بېړیو چلاو زده په سمندر کې وي
مست او توفاني سمندر خاندي او غورزېږي
ژېړې پلوشې یې په ساحل باندې خپرېږي
وړکوته د بحر توفاني ځپې ښکالو ښکاري
خوشې بې معنا غنگوږ ، د مور پسته للو ښکاري
لوی سمندر ووړ شي کوې لوبې له ورو سره
دوی ته په ساحل ننداره ښیې پلوشو سره
هرځای په جهان کې د ځپان بحر په خنده
ورکو جوړه کړې وي د لوبو وړه غونډه
بې لارې توفانونه چې په هسك کې وهي منډې
دوبې کړی بېړۍ وهي په ژوند پورې ملنډې
هره خوا مرگ خپور دی خو ماشوم نه تري خبرېږي
ډاډه زرونه په غاړو خپلو لوبو ته غونډېږي
هرځای چې د بحر په ساحل د ژوند اثر ښکاري
لوېې لوېې ډلی د ورو په لوبو سر ښکاري

www.libtool.com.cn

٦٠

بیګا په تت څنګله کې د خپان را ده٬ په غاړه
کله چې تیاره په مخکه ورو ، ورو خوریدله
یوه بله ډیوه یې تر پلو لاندې نیولې وه
سنګلې جینکۍ په بیره بیره تیریدله
*** *** ***

ما ویل جینۍ ! څه درته وایم – راته وګوره !
زما خونه تیاره ده ، ته دا بله ډیوه چیرې وړې ؟
دا ډیوه که راکړې زما توره شپه به ورکه کړې
خوا کې دې تیاره ده ته رڼا درسره لیرې وړې
*** *** ***

سنکلي توري سترګې يې را واړولې وې ويل :-
زما تر پلو لاندې پټه ده د نذراني ډيوه
لږ څه چې تياره شي دا په سين لاهو کومه زه
دا ډيوه د سين نذر ده ، نه د کاشانې ډيوه
www.libtool.com.cn
***   ***   ***

زه لا د ساحل په ونو غنو کې ولاړه وم
دې خپله ډيوه ها ليونو څپو ته وړاندې کړه
ما ورته کتل چې ډوبيدله په لوی لاس ډيوه
تته رڼاګۍ يې د سين مستو اوبو لاندې کړه
***   ***   ***

بيا مې د تياره ماښام سره سنا کې وليده
بيا يې هم ډيوه تر خپل پلو لاندې نيولې وه
ما وې :- جينۍ ! چيرته ځې او بله ډيوه چاته وړې ؟!
ستا هره رڼا د تا تر بلې رڼا سنکلې وه
***   ***   ***

زما خونه تياره ده که پرې زما خونه روښانه کړې
دې راته په شک وکتل ، ويې وې چې :- دا ډيوه
غوارم چې آسمان ته د هديې په توګه وړاندې کړم
دا د نذرانې ډيوه ده نه زما او ستا ډيوه
***   ***   ***

زه لا وم ولاړه هغه خای او هغې سيمې کې
دې د نذرانې ډيوه د سين په غاړه کيښوده
ارتې فضا کې سوځيده او ورکيده ډيوه
زما خونه يې هغسې تياره توره را پريښوده

نیمه شپه مې بیا ولیده ، بیا مې ورته وویل
څه غواړې چې بیا دې ډیوه خوا پورې نیولې ده ؟!
زما خونه تیاره ده ، دا ډیوه که راته وبخښې
زما په تنهایې گوره تیاره هم غوړیدلې ده
www.libtool.com.cn
*** *** ***

یوه گړۍ یې سوچ وواهه ، بیا یې راته وویل :-
عید د « دیوالي » دی ما راوړی ورته دا نذر
غواړم چې د نورو رڼاگانو تول کې گډه شم
نشم دربخښلی د ایمان د تینگیدا نذر
*** *** ***

زه لا په هغه ځای کې ولاړه وم چې ورکه شوه
هغه ډیوه گی په نورو گڼو څراغونو کې
لکه د باران یوه وړه قطره چې ولویږي
ورکه شي د بحر په وړو ، لویو موجونو کې

٦١

www.libtool.com.cn

چې د ليږد ساعت مې راشي لبز ځه وړاندي له سفره
خداى دي وکړي چې په خوله مې وي جاري دغه خبره :-
دا هر څه چې مې ليدلي
واړه ښه وو ، واړه غوره
د رڼا په سمندر چې نيلوفر وو غوړيدلى
پټ خوږوالى مې د هغه ښايسته ګل دى څکلى
ځکه خوښه يم او وايم چې د تلو وخت مې راغلى
دا هر څه چې مې څکلى
واړه ښه وو ، واړه غوره
په بې شميرو صورتونو مې ليمې دي لوبيدلي
دلته زما سترګې د هغه چا په مخ دي لګيدلي
چې نه رنګ لري نه کړهٔ وړهٔ نه يې خوبي دي چا شميرلي
غواړم ووايم په تلو کې
هر څه ښه وو ، واړه غوره
زما په ټول جسم و بدن کې خوږ مښود د دهٔ پيدا دى
ځکه هر غړى مې بېل بېل لکه زړه په رپيدا دى
خو دى نښې لمس کيدلى دى له هر څه مبرا دى
غواړم دا مې وروستى حرف دى
هـر څـــه ښه وو ، واړه غـوره

www.libtool.com.cn

٦٢

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !
د زاړه ناقوس له زړه دې اوس ستا مينه هيره شوې
عبادت ته د شپې هيڅوك نه دريولي ګېهالونه
په مطلق سکوت کې ورکه ! شاخوا دې سپيره شوې
*** *** ***

ستا د چوپې چوپيا کور ته آواره وزمې رادرومي
حال در وهي د هغو ګلو چې اوس ته در وراندې کيږي
لا د هغه لطف هيله چې انکار اوس ترې کيداى شي
د زاړهٔ پرستار زړه،کې دې خوريږي او څليږى
*** *** ***

ماښامي مهال چې ګډې په تیارو شي رڼاګاني
ستړي شوی ، ستومان شوی ، اسکیرلی خواته درشي
ښخواني ارادتمند دی وزی زړهٔ ترلاس نیولی
لتیدلی، پرزیدلی په تیاره کې تاته درشي

www.libtool.com.cn

* * *   * * *   * * *

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !
په شپو شپو ستا پرستش کړي په تیارو په دریلو کې
خو ته هروخت په دا یو شان جاویدان حیرت کې ډوب یې
ستا ماښام نه سبا کیږي ، رڼا نشته ستا په شپو کې

* * *   * * *   * * *

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !
زما تاته خوا شنه کیږي چې اختر او جشن راشي
نه امیل د تا په غاړه د ګلونو اچوي څوك
نه بتي درته بلیږي نه عطرونه په تا پاشي

* * *   * * *   * * *

ښایسته بُتان به جوړ کړي فنکاران چې زړهٔ یې غواړي
او په سین کې د نسیان به یې د تا غوندي ایله کړي
خو یوازې د وران شوي معبد بُت به تل بیخوده
هسې پروت وي او هیڅوك به پرستش د هغه نه کړي

* * *   * * *   * * *

PROPERTY OF ACKU 4792

Series NO:79

www.libtool.com.cn

On the Occasion of the 10 th Anniversary Of the Writers Union Of Free Afghanistan (WUFA) (1985-1995)

Gittangli

by:

Rabendra Nath Tagore

Translated in To Pashtu by:

Muhammad Sadiq Paserlai

The Writers Union Of Free Afghanistan.
1995